# شتمني
# SHTAMANAI


**هموطنان عزیز!**

پرداخت مالیات تضمینی رفاه، پیشرفت، خودکفایی اقتصادی و تقویت بودجه کشور می باشد؛ بیایید در این مرحله حساس مالیات خود را در وقت معین به حکومت بپردازید تا کشور ما به استقلال اقتصادي برسد.

سه شنبه | ۱۰ صفر المظفر ۱٤٤٤/ ۱٥ سنبله ۱٤۰۱ | ٦ سپتامبر ۲۰۲۲ | سال اول | شماره ۲۷ | ٤ صفحه



# رهبری و مسئولین وزارت مالیه گزارش سالانه فعالیت های خود را با ملت شریک نمود

سرمقاله



## راسئ په کار کي غوره توب وکړو

د خدای جل جلاله په ټولو مخلوقاتو کي کمال او غوره توب له ورایه ښکاره او ځرکند دئ. له واړه مېږي نیولې په لمر، سپوږمی، ستورو، ورځ، شپه، ونو او نورو کي چي ځونده کمال او غوره توب دئ، انسان په یوویشتمي پېړی کي ورته عاجز او ورځخه بې برخي دئ. د شاتو موچی گورئ، چي ځومره منظم او ښایسته کور ځان ته جوړوي، داسي منظم کور چي د نړی ستر مهندسین ئي په ډېرو مجهزو وسائلو هم له جوړولو عاجز دي، همداسي مېږی یوه وړه حشره ده، چي ژوند ئې و موږته د توحید، خدای پېژندني، غوره توب او کمال درس راکوي. وني په ځونده غوره توب او کمال سره شپه او ورځ په کار بوختي وي، زیار باسي، مضر گازونه جذبوي او زموږ د اړتیا وړ اکسیجن تولیدوي، د مځکي له خاورو په خپلو نازکو جرړو سره هغه حیاتي مواد جذبوي چي موږ ورته ضرورت لرو او د لمر د وړانگو په مرسته له دغو موادو موږته ښایسته او خوندوري مېوې جوړوي. الله جل جلاله چي ځونده په کمال او غوره توب سره د هرځه تخلیق کړی همداسي د خپلو بندگانو ځخه غواړي چي په کمال او غوره توب سره خپل هر کار تر سره کړي. راسئ موږ هم تر هرځه وړاندي خپل گرېوان قاضي کړو، په خپل مأموریت کي یوه شیبه ځنډ او لټي ونه کړو او نه یوه ذره سرغړاوی او عصیان، مادي گټي شاته کړو، یوازي خدای، اولس او هیواد په نظر کي ونیسو، له هغه توجیهاتو تېرسو، چي په هرځه کي د لټولو هڅه کوو، له انجینره نیولې تر ډاکټره او له وارداتو نیولې تر صادراتو په هرځه کي غوره او د کمال څښتنان و اوسو، چي په دې سره به مو نه خدای جل جلاله، نه اولس او نه هیواد دا کار ضایع کړي، بلکي دا او هغه نړی به مو هم ورسره غوره سی. لکه الله جل جلاله چي فرمایي: موږ د هغه چا اجر نه ضایع کوو چي د عمل له مخي ښه وي. دوی هغه وگړي دي، چي داسي تلپاته جنتونه به ئې په برخه وي چي ترې لاندي ویالې بهېږي، د سرو زرو په لاس وندو به سینگار کړای سي او د نریو او پړېړو ورېښمو شنې جامې به اغوندي په داسي حال کي چي پر تختونو به تکیه کوونکي وي، ځومره غوره ثواب او ښایسته تکیه ځی.

**درنښت**

**اداره**



**در جریان پاسخگویی به ملت به سطح وزارتخانه ها، رهبری وزارت مالیه نیز گزارش سالانه فعالیت های خود را با مردم شریک نمود.**

به همین منظور الحاج ملا هدایت الله بدری وزیر مالیه، مفتی عبدالمتین سعید رئیس عمومی گمرکات، معراج محمد معراج رئیس عمومی عواید، نصرت الله محمود رئیس عمومی خزاین و تعدادی از مقامات در کنفرانس مطبوعاتی که در مرکز رسانه های حکومت برگزار شده بود شرکت کرده و دستاوردها و تحولات سال گذشته وزارت مالیه را با مردم در میان گذاشتند.

در ابتدا الحاج ملا هدایت الله بدری وزیر مالیه صحبت کرده، گفت که در روز های نخستین تسلط امارت اسلامی، وزارت مالیه تمام سیستم های خود را فعال و عواید کشور مرکزی شد، به مبارزه با فساد، اصلاحات اداری و خودکفایی اقتصادی اولویت داده شد، بودجه سه ماهه سال ۱۴۰۰هـ.ش (۵۳) میلیارد افغانی و سپس بودجه ملی سال ۱۴۰۱هـ.ش (۲۳۱) میلیارد افغانی بدون کمک های خارجی ترتیب شد، اصلاحات در تشکیلات اداری به وجود آمده و افراد مسلکی و شایسته استخدام شدند.

سپس معراج محمد معراج رییس عمومی عواید وزارت مالیه صحبت کرد و گفت: ریاست عمومی عواید از اول سنبله سال گذشته الی سنبله سال ۱۴۰۱هـ.ش مبلغ ۱۵۱ میلیارد افغانی عواید جمع آوری کرده است، اصلاحات در بخش هایی از سیستم ها انجام شده و کار روی طرزالعمل یکسان سازی قوانین در حال انجام است.

مفتی عبدالمتین سعید رئیس عمومی گمرکات به دستاوردهای این اداره در یک سال گذشته اشاره کرد و گفت: این اداره تسهیلات لازم را در بخش قیمت گذاری اموال تجارتی به وجود آورده و کدهای مختلف را از بین برده است، مدت زمان ترانزیت از ۵ روز به ۸ روز افزایش یافته، برخی گمرکات به منظور تسهیل در طی مراحل گمرکی به مرزها منتقل شده است، به صادرات میوه جات و سبزی جات تازه اولویت داده شده است، تمامی مسیرهای قاچاقی کشور با کمک تیم مراقبت سیار بسته شده است، اشخاص مفسد دستگیر و به ارگان های عدلی مربوطه تحویل داده شده اند.

آقای سعید همچنان گفت که در پنج ماه گذشته ۴۱ میلیارد افغانی عواید جمع آوری شده و به همین ترتیب در یک سال گذشته به ارزش ۵۲ میلیارد افغانی صادرات صورت گرفته است که نسبت به سال قبل ۱۰ درصد افزایش را نشان می دهد. وی گفت: واردات نیز نسبت به دولت قبلی افزایش یافته است، طوریکه در پنج ماه اخیر دولت قبلی به ارزش ۱۷۷ میلیارد افغانی و در پنج ماه نخست سال جاری به ارزش ۲۲۲ میلیارد افغانی واردات صورت گرفته است، که نشان دهنده ۲۵.۵ درصد افزایش می باشد.

رئیس عمومی گمرکات گفت با حاکم شدن امارت اسلامی ترانزیت از طریق افغانستان نیز افزایش یافته است، در یک سال گذشته ۵۶۹۶۴ محموله از راه افغانستان ترانزیت شده است، که در سال اخیر حکومت قبلی تعداد این محموله ها به ۱۵۵۷۴ میرسید، این نشان می دهد که اصلاحات گسترده ای را در گمرکات انجام داده ایم.


نصرت الله محمود رئیس عمومی خزاین، دستاوردهای سالانه این ریاست را به گونه ذیل بیان کرد: هزینه های غیر ضروری کاهش یافته و هزینه ها در مکان های مفید به مصرف رسیده است. در واحدهای بودجوی از خرید اجناس لوکس و تجملی، روغنیات و همچنان از مصارف غیر ضروری در سفرهای خارجی جلوگیری شده و تفاوت معاشات کارمندان از بین برده شده است. به همین دلیل موفق شده ایم که تمام مصارف نظام را به شکل بهتر آن تمویل نموده و تعدادی از پروژه های مهم انکشافی را نیز راه اندازی کنیم که از آن جمله می توان به کانال قوش تیپه، راه آهن، احداث پایگاه های هوایی و عصری سازی گمرکات اشاره کرد.

آقای محمود گفت که تمام قروض نظام فعلی و حتی برخی از قروض نظام قبلی راکه از موسسات خارجی و بانک ها گرفته شده بود ادا گردید. به همین ترتیب قرارداد ۳ میلیون پاسپورت نیز امضا شده و آماده چاپ می باشد. کمک های بشردوستانه دونران و تمویل کنندگان خارجی به پروژه های انکشافی و کمک های اولیه اختصاص یافته که نمونه بارز آن در حال حاضر دریافت ۹۰۰ میلیون دالر از صندوق وجهی بازسازی افغانستان است که تا دو سال آینده در بخش های صحت، معارف، مالداری و زراعت به مصرف خواهد رسید.

## د مالیې وزارت د قراردادي بستونو ازموینه واخیستل سوه

د مالیې وزارت هڅه کوي، تر څو د بشري سرچینو په برخه کي وړ او مسلکي کسان د ازادي سیالۍ له لاري پر دندو وگماري. پر همدې بنسټ د مالیې وزارت اړوند د عوایدو لوي ریاست له لوري او د ازموینې ملي ادارې په ملتیا د (۱۰۵۸) قراردادي بستونو ازموینه په کابل او د هیواد په ۷ زونونو کي واخیستل سوه.

د ازموینې په دغه پروسه کي د عوایدو لوي رئیس معراج محمد معراج، د ازموینې ملي ادارې مرستیال، مسؤلینو او د پوهنتون استادانو گډون کړی وو. د عوایدو لوی رئیس معراج محمد معراج گډونوالو ته په خپلو خبرو کي وویل: د مالیې وزارت د روڼتیا اصل ته په ژمنتیا تل هڅه کوي، چي کار اهل کار ته وسپاري او له بېلابېلو گټورو لارو ځخه په گټي اخیستني سره، وړ، متعهد، رښتیني او مسلکي کسان په خپلو اړوندو ادارو کي په دندو وگماري، تر څو یوه مسلکي او تخصصي اداره رامنځ ته سي. دغه ازموینه کي د پلازمېني کابل او (۷) زونونو په شمول



۷۸۳۸ کسانو گډون کړی وو، چي له ازموینې وروسته به بریالي کسان اړونده ادارو ته ور معرفي او په دندو وگمارل سي. د یادوني وړ ده، چي دغه ازموینه د ناظرینو په حضور کي په شفاف ډول واخیستل سوه، چي گډون وال ئې هم له شفاف بهیر ځخه خوښ او راضي ول.




**د مالیې وزارت د کلني حساب ورکړي خبري کنفرانس ته د مالیې وزیر وینا**

م ۲



**جلسه به منظور هماهنگی میان ریاست های عمومی بودجه و خزاین وزارت مالیه و بخش های مالی سایر ادارات دولتی دایر گردید**

م ۳



**د کورنۍ پلټني لوی رئیس څلورو ولایتونو ته سفر وکړ**

م ۲




**د مالیې وزارت د کلني حساب ورکړي خبري کنفرانس ته د مالیې وزارت د گمرکونو لوی رئیس وینا**

م ٤



**د مالیې وزارت د کلني حساب ورکړي خبري کنفرانس ته د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس وینا**

م ٤




**د مالیې وزارت د کلني حساب ورکړي خبري کنفرانس ته د مالیې وزارت د خزاینو سرپرست رئیس وینا**

م ۳

شتمنۍ
SHTAMANAI

## د کورنۍ پلټنې لوی رئیس څلورو ولایتونو ته سفر وکړ




د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی رئیس انجنیر عبداللطیف خالد، په مشرۍ یو پلاوي د چارو د هر اړخیزې ارزونې په موخه د ننگرهار، لغمان، کونړ او نورستان ولایتونو له والیانو، مستوفیانو، د گمرک له رئیسانو او کارکوونکو سره په جلا غونډو کې ولیدل.

د کورنۍ پلټنې لوی رئیس د یادو ادارو له مسؤلینو او کارکوونکو سره په لیدنو کې د چارو پر روڼتیا، تعهد، تخصص او همدارنگه د پلټنې د ارزښت او اهمیت په اړه خبرې وکړې، نوموړي د دغو ادارو له کارکوونکو څخه وغوښتل چې د عوایدو په راټولولو کې زیار وباسي؛ ترڅو هیواد د ځان بساینې پر لور حرکت وکړي. د کورنۍ پلټنې لوی رئیس زیاته کړه، زموږ د هیواد دښمنان هڅه کوي چې افغانستان له اقتصادي پلوه وځپي؛ خو که چیرې موږ او تاسې په ریښتني توگه کوښښ او کار وکړو؛ نو د څښتن تعالی په مرسته به زموږ دښمنان په دغه ډگر کې هم له ماتې سره مخ سي .

ښاغلي خالد او مل پلاوي یې د تیرو پلټنو په لړ کې د پلټونکو له لوري د ورکړل سوو سپارښتنو د تطبیق پوښتنه وکړه او له مسؤلینو یې وغوښتل چې د چارو د سمون په موخه د پلټنې سپارښتنې په خپله ټاکلې موده کې تطبیق او راپور یې له مرکز سره شریک کړي.

همداسي د کورنۍ پلټنې لوی رئیس د دغو ادارو د کارکوونکو ستونزې او غوښتنې واورېدې او د حل په موخه یې لازمي لارښووني او مشورې ورسره شریکې کړې. پلاوي همدارنگه ژمنه وکړه، چې د یادو ادارو هغه ستونزې، چې د مالیې وزارت مشرتابه یې باید په اړه پریکړه وکړي، د وزارت له مقام سره ډېر ژر شریکې کړي.

د یادوني وړه ده، چې تر دې مخکې هم د کورنۍ پلټنې لوی رئیس او ورسره ملا پلاوي فراه، نیمروز، هرات، بادغیس، کونړ او نورستان ولایتونو ته په همدې موخه سفرونه کړي وو، هلته یې له والیانو، مستوفیانو، رئیسانو او کارکوونکو سره لیدلي وو.

# د مالیې وزارت د کلني حساب ورکړې خبري کنفرانس ته

## د مالیې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري بشپړه وینا




د افغانستان قدرمن اولسه! راغلو مېلمنو، د رسنیو استازو او ټولو حاضرینو ته! اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته؛ خوښ یم چې د مالیې وزارت په استازیتوب، ستاسو د رسنیو محترمو همکارانو پر مټ د مالیې وزارت د یوه کال لاسته راوړني او معلومات له خپل اولس او خلکو سره شریکوم.

هیله لرم، چې د اسلامي امارت د یوه کال په بشپړېدو سره د مالیې وزارت په ټولو برخو کې زموږ هلې ځلې او لاسته راوړني د افغانستان ځورېدلي ملت ته د خوښۍ زېرى ورکړي او پر خپل راتلونکي او اسلامي نظام یې باور لا غښتلی سي.

پر هیواد د اسلامي امارت د بیا واکمن کېدو وروسته د مالیې وزارت رهبري په لومړنیو اونیو کې خپل ټوله سیستمونه فعاله کړل، د هیواد ټوله عواید یې مرکزي کړل، له اداري فساد سره ریښتینې مبارزه، اداري اصلاحاتو رامنځته کولو او په اقتصادي لحاظ پر ځان بسیا کېدلو ته لومړیتوب ورکړ، چې ورسره د وزارت اړوند په ټولو برخو کې مثبت بدلونونه رامنځته سول او په ملي کچه یې ښې لاسته راوړني خپلې کړې.

**بودیجه:**

موږ وکولای سوای د نړیوالو بنسټونو او مرستو پرته له خپلو کورنیو عوایدو په لږو امکاناتو سره په لومړي سر کې د ۱۴۰۰ کال وروستیو درو میاشتو بودیجه (۵۳) میلیارده افغانۍ او بیا د ۱۴۰۱کال لپاره یو کلنه بودیجه چې (۲۳۱) میلیارده افغانۍ کېږي ترتیب کړو.

مالیې وزارت د ۱۴۰۱ کال په ملي بودیجه کې چې زموږ پر خپلو کورني عوایدو باندي ولاړه ده، د بې ځایه لگښتونو مخنیوي پکښې وکړي، د عادي بودیجې تر څنگ یو شمېر هغه پراختیایي پروژې هم په پام کې پکښې ونیول سوې، چې په بشپړېدو سره به یې خلگ سوکاله او اقتصادي وضعه به یې ښه سي، له دې ډلې موږ د قوش تېپې کانال یادولی سو، چې په روان کال کې ۷ میلیارده افغانۍ په بودیجه کې ورته په پام کې نیول سوي دي.

**گمرکات:**

د کابل د فتحې څخه وروسته مو په لومړنیو اونیو کې د گمرکاتو سیستم فعاله کړي عواید مو مرکزي کړل چې د بانک د لاري را ټولیږي، گمرکي پړاوونه مو اسانه کړل، پر مختللي بریښنایي ترازوگان مو نصب کړل، د هیواد په یو شمېر گمرکونو کې مو د سوداگرو د اسانتیا په موخه کاري موده اضافه کړې ده، د تورخم او سپین بولدك گمرکات اوس ۲۴ ساعته پرانیستي وي، د دې ترڅنگ د خوست ولایت د غلام خان او پکتیا ولایت د ډنډپټان بندورنه په ورځ کې ۱۲ ساعته فعاله او خدمتونه وړاندي کوي، همدارنگه سوداگر ته د اسانتیاوو په موخه ورته انلاین یوزرونه جوړ سول او د کمیشنکارانو جوازونه مو لغوه کړل، چې په پایله کې په ټولو گمرکونو کې د فساد له منځه ولاړی.

په تېر یوه کال کې مو د هیواد له ټولو گمرکونو څخه له (۷۰) میلیارده افغانۍ زیات عواید راټول کړي، چې د تیر په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښیي.

د یادونې وړ ده چې مالیې وزارت د گمرکونو د پرمختگ او ښه کاري بهیر په برخه کې د اسلامي امارت لاسته راوړني او کارونه په ډېرو معتبرو نړیوالو رسنیو کې هم انعکاس موندی.

**عواید:**

د مالیې وزارت یو د مهمو او کلیدي ریاستونو څخه د عوایدو لوی ریاست دئ، چې مالیاتي او غیري مالیاتي عواید راټولوي، په تېر یوه کال کې ددې سره - سره چې د بانکي محدودیتو په سبب د کاروبار حجم کم سوی دئ؛ خو د عوایدو ریاست د خپلو ښو خدمتونو په وړاندي کولو، د تشکیلاتو په اصلاح کولو، مسلکي کادرونو په گومارولو، مالیه ورکوونکو ته د اسانتیاوو په وړاندي کولو او شفافیت راوستلو په پایله کې ډېر زیات عواید راټول کړي دي.

په تېر یوه کال کې د عوایدو لوی ریاست د ٦٥ میلیارده افغانۍ څخه اضافه مالیاتي او غیري مالیاتي عواید راټول کړي چې د راوان کال تر پایه به نور هم زیات سي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان اسلامي امارت قدرمنو مالیه ورکوونکو ته مو د اسانتیا او تشویق په موخه د اصنافو په مالیاتي نورم کې کموالی رامنځته کړ، چې له ۱،۵ سلنې څخه و ۰،۵ سلنې ته راکمه کړه او هم مو د تیرو کلونو جرایم ورته معاف کړه.

**دولتي شرکتونه:**

د اسلامي امارت له واکمنېدو وروسته د دولتي شرکتونو د اصلاحي پروگرامونو، د تشکیلاتي جوړښت معیاري کولو او د مدیریت د اصلاح لپاره د مالي نظام تقاضاوو سره سم، د دولتي شرکتونو د ځوابوینې په موخه نه ستړي کیدونکې هڅې کړي دي، چې په پایله کې یې ۸ شرکتونو خپل فعالیتونه بیا پیل کړل.

ددې تر څنگ موږ هڅه کوو چې د بلخ سیلو، د پلخمري سیلو، افغان نساجي، د کندهار نخی نساجي، د کندهار د وړیو نساجي، د بغلان شکر او لاسي صنایعو شرکتونه هم بیا فعاله کړو.

همدارنگه مو د دولتي شرکتونو د پانگونې برخه کې فرصتونه، اسانتیاوي او طرحې چمتو کړي، تر څو پر دولتي شرکتونو باندي د دولت او خصوصي سکټور گډې پانگونې ته زمینه برابره سي.

د پالیسي په برخه کې د مالیې وزارت د افغانستان اقتصاد تر عنوان لاندي یو مهم نړیوال کنفرانس جوړ کړ، چې په نړیواله کچه یې د افغانستان لپاره په اقتصادي برخه کې ښې لاسته راوړني ولرلې؛ له نړیوالي ټولنې سره اقتصادي تعاملات عادي سول، د افغانستان پر بانکي سکټور لگیدلي بندیزونه محدود سول، په کور دننه خصوصي سکټور ته لازمي اسانتیاوي رامنځته سوې، د بشري مرستو تر څنگ انکشافي مرستو ژمنې هم وسوې، د بشر پاله مرستو په تړاو د نړۍ والي ټولنې ژمنې او په ټوله کې د نړۍ والي ټولنې استازو له افغانستان سره په بېلابېلو اقتصادي برخو کې د لنډ مهاله او اوږد مهاله مرستو ژمنې وکړې.

د مالیې وزارت په خپلو چارو کې بشپړ شفافیت او رښې حکومتولۍ ته په ژمنتیا سره، له پرمختللیو برېښنایي سیستمونو څخه په گمرکونو، خزاینو او عوایدو کې کار اخستل کیږي.

موږ هڅه کوو چې د بشري منابعو په برخه کې هم مسلکي کسان د شفافو پروسو او آزاد رقابت له لاري په دندو وگومارو، په تېر یوه کال کې مو د آزادو سیالیو له لاري په سلهاوو مسلکي کسان گمارلي دي، او اوس بیا ۱۰۵۸ بستونه د اعلان کړي دي چې د آزادو سیالیو له لاري به وړ او مسلکي کسان پکښې وگومارو.

**د یوه اباد، ځان بسیا او سرلوړي افغانستان په هیله**

**ستاسو د ټولو د پاملرني څخه مننه**

شتمني SHTAMANAI

## د ماليې وزارت د کلني حساب ورکړې خبري کنفرانس ته

## د ماليې وزارت د خزاينو سرپرست رئيس نصرت الله محمود وينا

د افغانستان دروند اولسه! قدرمنو مېلمنو، د رسنيو استازو او ټولو درنو حاضرينو!

اسلام عليكم ورحمة الله وبركاته

دې کې شک نشته چې عوايد د ماليې وزارت او په ټوله کې د افغانستان او هر نظام لپاره يوه اړينه برخه ده. د دې لپاره چې نظام په غوره توګه پرمخ ولاړ سي؛ اړينه ده چې د عوايدو او مصارفو توازن په پام کې ونيول سي. سره له دومره ستونزو الحمد لله زموږ عوايد ښه دي او په دې برخه کې زموږ همکارانو پوره هڅې کړي دي؛ خو دا چې زموږ بوديجه کمه ده او دولتي لګښتونه زيات دي، موږ مجبور يو چې غير ضروري مصارف را کم کړو او خپل مصارف داسي ځايونو کي وکړو، چې مؤثريت ئې زيات وي او عوايد په لاس راکړي. بوديجوي واحدونو کې د لوکسو او تجملي اجناسو له خريدارۍ څخه تر ډېره مخنيوی سوی، د امتيازي معاشونو فاحش تفاوت له منځه تللی، د غير ضروری بالمقطع او سوپرسکيل کارکوونکو شمېر تر يوه حده را کم سوی، د روغنياتو، برق، اوبو او خارجي سفريو څخه غير ضروري لګښتونه را کم سوي، د امنيتي سکټور په برخه کي يو شمېر لګښتونو لکه: تدفين، تجهير او انفکاك څخه سپما، د حکومت عالی رتبه چارواکو په معاشونو، امتيازونو او نورو لګښتونو کي کموالی، هغه کارونه دي چي ماليې وزارت پکښي نه ستړي کېدونکي هلي ځلي کړي دي؛ د همدې هلو ځلو برکت دئ، چي د بوديجې د کموالي سره - سره بيا هم موږ توانېدلي يو، چي د نظام د کارکوونکو معاشونه او اداري لګښتونه په ټاکلي وخت او نورمال ډول اجراء کړو. بل خوا مو له دې سره - سره په همدې بوديجې ځيني پراختيايي پروژې هم پلان کړي دي، لکه: د قوشتېپې کانال، رېل پټلۍ، هوايي مفرضو، د سرحدي پوستو جوړول او د ګمرکاتو عصري کول د يادوني وړ دي. لنډه دا چي د افغانستان اسلامي امارت له راتګ څخه وروسته نظام خپل پوروونه تر ډېره ادا کړي، حتی تر دې چي د تېر نظام ځيني بهرني پوروونه؛ لکه: د نړيوال بانک(۲,۹) ميليونه ډالر او د (IMF) (۳.۳) ميليونه ډالر پوروونه مو په تېرو ورځو کي ادا کړل. بل دا چي سره له ډېرو هغو ستونزو چي بهرنيانو راته جوړولې، موږ وکولای سول، چي د ۳ ميليونه پاسپورټونو قرارداد لاسليك او چاپ ته يې چمتو کړو، چي د لګښتونو چارې يې د افغانستان بانك ته سپارل شوي دي.

د مؤثريت او رونتيا په موخه د څه باندي ۵۲ زرو ملکي کارکوونکو او نظامي منسوبينو ثبت او راجستر کول، د نوي مالي سيستم (اف مس) په جوړولو کار کول، چي تر ډېره بريده يې چاري خلاصي سوي دي، چي لنډ وخت کي به ګټې اخيستني ته وړاندي سي، پخوا به مو دغه سيستم له (فري بيلانس) کاناډايي کمپنۍ څخه هر کال د ۳ سوه زره ډالرو په ارزښت خريداري کاوه؛ خو اوس مهال الحمدلله د خپلو کادرونو په مټ موږ دې ته نږدې يو چي د خپل مالي سيستم لرونکي سو. په وروستيو کي يوه ټکي ته اشاره کوم، هغه دا چي اوسنۍ مرستي تر ډېره بريده بشري وې او انکشافي برخه يې نه لرله؛ خو د ماليې وزارت د مسلسلو هڅو له برکته د تمويل کوونکو او ډونرانو توجو د بشري مرستو ترڅنګ انکشافي پروژو او اوليه مرستو ته هم را اړول سوي، په دې برخه کي د افغانستان د بيارغوني وجهي صندوق(ARTF) څخه (۹۰۰) ميليونه ډالر د صحت، زراعت، معارف او کليو بيارغوني لپاره منظورل شول، چي په راتلونکو دوه کلونو کي به پر يادو برخو باندي ولګول سي.



## جلسه به منظورهماهنگی میان ریاست های عمومی بودجه و خزاین وزارت مالیه و بخش های مالی سایر ادارات دولتی دایر گردید



جلسه به منظور هماهنگی میان ریاست های عمومی بودجه و خزاین وزارت مالیه و بخش های مالی سایر ادارات دولتی با اشتراك رؤسای عمومی بودجه و خزاین، رؤسا و نمایندگان بخش های مالی دیگر ادارات دولتی در خیبرهال این وزارت دایر گردید.

در این نشست که بخاطر بهبود و تسریع روند کاری میان بخش های مالی ادارات دولتی و ریاست های عمومی خزاین و بودجه وزارت مالیه دایر گردید، در رابطه به مشکلات میان ریاست های بودجه و خزاین وزارت مالیه و بخش های مالی ادارات دولتی دیگر هماهنگی با ریاست خزاین، ارائه طرز العمل ال سی (لیترآف کردیدت)، طرز العمل انتقال پول حواله های پیشکی به حسابات بانکی ادارات، تدویر برنامه های آموزشی برای کارمندان بخش های مالی ادارات دولتی و دیگر موضوعات مرتبط بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

برای هماهنگی هر چه بیشتر میان این ادارات نظریات و پیشنهادات رؤسای مالی استعماع و فیصله گردید که طرز العمل انتقال پول حواله های پیشکی جهت غنامندی هرچه بیشتر آن با ادارات دیگر و اخذ نظریات و پیشنهادات آنها شریك ساخته شود.

## اعلان داو طلبی

### اعلان دو جایداد ریاست عمومی املاک دولتی

ریاست عمومی املاك دولتی وزارت مالیه جایداد های دولتی ذیل را به شکل آفر سربسته از طریق پروسه داوطلبی به اجاره می دهد.

۱- دوباب غرفه به مساحت های (۸,٦٤) و (۸) متر مربع واقع مستوفیت اسبق سینما پامیر ناحیه اول شهر کابل.

۲-به تعداد ۲۰ باب دکاکین به مساحت های مختلف طور جداگانه واقع سوپر مارکیت کوته سنگی ناحیه سوم ولایت کابل.

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهش اشتراك در پروسه داوطلبی جایداد های فوق الذکر را داشته باشند در خواستی های خویش را به ریاست عمومی املاك دولتی واقع تعمیر (۱۴) منزله سینمای پامیر، منزل هفتم مدیریت عمومی قرار دادهای مرکز تسلیم نموده سر از تاریخ ۲ اسنبله الی مدت ۲۱ روز شرطنامه را ملاحظه نموده مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول حق الاشتراك بدون باز گشت را پرداخت نمایند.

### به اعلان سپردن مغازه نمبر ۳،٤و ۵ واقع منزل اول چهارده منزله سینما پامیر ملکیت وزارت مالیه

ریاست عمومی املاك دولتی وزارت مالیه مغازه نمبر ۳،٤و۵ به مساحت ۹٤,۹٦ متر مربع واقع منزل اول چهارده منزله سینما پامیر را بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد.

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراك در پروسه داوطلبی جایداد های فوق را داشته باشند، میتوانند سر از تاریخ ۷سنبله مدت (۲۱) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاك دولتی واقع تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر ، منزل هفتم مدیریت عمومی قراردادهای مرکز تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

### به اعلان سپردن ۲ جایداد واقع داخل محوطه پوهنتون کابل

قرار است ریاست عمومی املاك دولتی وزارت مالیه دو جایداد دولتی ذیل در مرکز را طور جداگانه بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی سپرده شود که مشخصات آن قرار ذیل است. ۱- یکباب کفتریا بشمول ساحه سبز آن بمساحت(۳۹٦٤) مترمربع واقع داخل محوطه پوهنتون کابل ناحیه سوم. ۲-یکباب کانتین بمساحت ۱۳٤ مترمربع وقع جوار پوهنحی شرعیات پوهنتون کابل ناحیه سوم.

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراك در پروسه داوطلبی جایداد های فوق را داشته باشند، میتوانند سر از تاریخ ۸ سنبله به مدت (۱٤) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاك دولتی واقع تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر ، منزل هفتم مدیریت عمومی قراردادهای مرکز تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

شتمنی SHTAMANAI

## د ماليې وزارت د کلني حساب ورکړې خبري کنفرانس ته

# د ماليې وزارت د عوايدو لوی رئيس معراج محمد وينا

درنو هيوادوالو، مشرانو، مېلمنو، د رسنيو استازو او قدرمنو حاضرينو!
السلام عليکم ورحمت الله وبرکات!

ماليې وزارت د افغانستان يو اساسي وزارت او د دې نظام د تمويل واحده ذريعه ده، چې همدغه ځای کې د افغانستان د ټولو ادارو تمويل کيږي او بيت المال د همدې ماليې وزارت مربوط دئ. په دې کې بيا يو کليدي رياست د عوايدو عمومي رياست دئ، چې موږ له ملت سره ژمنه کړې وه، چې خپل ملت ته به حساب ورکوو او نن خوښ يم چې د محترمو رسنيو له لارې خپل ملت ته خپلې کړنې روښانه او حساب ورکوو.

د اسلامي امارت له راتګ سره که څه هم د بيت المال لپاره يو چوکاټ موجود وو؛ خو هغه کې اصلاحاتو او ريفورم ته اړتيا ليدل کيده او موږ وکولای سول لومړی د ماليې وزارت په ځانګړې توګه د عوايدو لوی رياست حالت عادي کړو او بيا اصلاحات رامنځته کړو، چې دغه اصلاحات او ريفورم د هيواد د اړتياوو او نړيوالو معيارونو په نظر کې نيولو سره ترسره سوي دي.

زموږ قوانين او طرزالعملونه تر کار لاندې دي، چې وکولای سو څنګه پانګونه وکړو، څنګه سوداګرۍ ته لاره هواره ولای سو او څنګه کولای سو اقتصادي څرخ په حرکت راولو او څنګه کولای سو خپلې داخلي منابع د خپلو داخلي عوايدو له لارې تمويل کړو؟

سره له دې چې زموږ له ۹ ميلیارده ډالرو څخه زياتې پيسې د امريکا متحده ايالتونو او د دوی د متحدينو له لوري په نړيوالو بانکونو کې کنګل سويدي، خو بيا مو هم دځانبسياينې لپاره چټک ګامونه اخيستي دي، زموږ پاليسۍ او پلانونه د دې لپاره دي، چې نور بهرنيو مرستو ته اړتيا پيدا نه کړو، له خپلو ملي عوايدو ځان بسيا کړو او په نږدې راتلونکې کې يو خودکفا هيواد و اوسو. د ماليې وزارت په داسې جامع پلانونو او طرحوکارکوي، چې څنګه کولای سو په خپلو عوايدو ځانبسياکړو او موږ ملت ته دا ثابته کړې هم ده، چې په شفافيت او ديانت او نورو ستونزو سره موږ وکولای سول چې د سږ کال ملي بوديجه له خپلو ملي عوايدو څخه جوړه کړو. د ماليې وزارت په ټولو مرکزي او ولايتي اداروکې مو د اميرالمؤمنين (حفظه الله) په هدايت په قوانينوکې تعديل راوستی او دغه قوانين به د شريعت مطابق جوړېږي.

موږ د عوايدو په برخه کې سيستم جوړونه ريښتيني کړې او بروکراسي موله منځه وړې او د ملي سوداګرو لپاره مو اسانتياوې او نوي طرزالعملونه رامنځته کړي دي او په نږدې راتلونکې کې به نهايي سي. د دې ترڅنګ موږ د قوانينو په يکسان سازي باندې په ډېر قوت سره کار کړی دئ. برېښنايي حکومتولي چې د يوه هيواد اساس جوړوي کار مو پر کړی او په هغه کې مو (ETCC) الکترانيک ټکس کلېرينس سرټيفيکيټ) په اخري مراحلو کې دئ او ژر به د سوداګرۍ وزارت سره وتړل يا ادغام (Integration)) سي.

له دې ټولو سره سره ملت ته يو ښه خبر دا دئ چې اوس مهال ټول شرکتونه له (E-Filing) سره وصل سوي دي او په ټولو شرکتونو باندې E-Filing منلی او پخوا به چې په بېلابېلو ادارو کې په مختلفو بڼو کارونه ترسره کيدل اوس واحد سوي دي.

همدا شان مو E-TIN ته عملي بڼه ورکړې ده، پخوابه په شپو ورځو خلکو ته نوبت نه رسېده، چې TIN ترلاسه کړي اوس خلک کولای سي، له خپل کار ځای څخه هم E-TIN ترلاسه کړي. بل مو (TIS) سيستم چې په هيواد کې ټول قراردادونه هلته ثبتېږي، لکه د مؤسسو، امارتي ادارو او همدا شان اوس وزارتونه کولای سي خپل قراردادونه په دې سيستم کې واچوي. له مرکزي احصائيې او د پاسپورټ رياست سره زموږ د سيستمونو ادغام پړاوونه وروستيو مراحلو ته رسېدلي دي، له بانکونو سره مو د سيستم نښلوني په برخه کې ځينې ادغامونه ترسره سوي دي او د آفميس او اسيکوډا له سيستمونو سره مو مخکې توصل درلوده، چې له دې ټولو څخه موخه دا ده چې زموږ د معلوماتو مرجع يوه او ځانګړې وي لکه د سيګټاس سيستم، چې دغه چاره د برېښنايي حکومتولۍ بېلګې دي او په دې برخه کې دقيق او چټک کارونه نور هم روان دي.



ماليې وزارت د ظرفيت په جوړونه کې کوټلي ګامونه پورته کړي او په ځينو برخوکې مواداري جوړښت رالنډ او ستر بدلونونه مو پکښې را وستلي دي، اداري جوړښت مو په نړيوالو معيارونو برابر کړی، چې ځينې د ډېرو ادارو کارونه په يوه اداره کې ترسره کيږي او په پايله کې د ماليو په راټولو کې زياتوالی او روڼوالی راغلی دئ.

زموږ هڅه دا ده، چې سوداګرو، پانګوالو او په ځانګړې توګه صنعت کارانو ته اسانتيا رامنځته کړو، د دوی د هڅوني او جلب لپاره کار او پلان روان دئ او د سوداګرۍ، صنعت، پانګونې او اصنافو لپاره ځانګړې طرزالعملونه جوړسوي او د تطبيق په حال کې دي.

ماليې وزارت په ډېر لنډ وخت کې له اداري فساد سره کلکه او ګړندۍ مبارزه کړې ده، امين او صادق کسان مو تعيين کړي دي.

په اخره کې بايد ووايم، چې دا هيواد زموږ او تاسو ګډو هڅو ته اړتيا لري او موږ يې بايد په ګډه ودان کړو. ماليې پر خپل وخت سره ورکړو او د ماليو د تېښتې مخنيوی وکړو. راځئ چې په ګډه له فساد سره مبارزه وکړو، د ماليې وزارت د ادارو دروازې د خلکو په مخ خلاصې دي، کولای سي شکايت ثبت کړي او له موږ سره د هر ډول اختلاس په له منځه وړلو کې مرسته وکړئ.

## د ماليې وزارت د کلني حساب ورکړې خبري کنفرانس ته

# د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رئيس مفتي عبدالمتين سعيد وينا

درنو حاضرينو، مېلمنو، د رسنيو استازو او قدرمن ملته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاة!

خوښ يم چې په دې غونډه کې د ګمرکاتو د لوی رياست په استازيتوب تاسو سره د ګمرکاتو معلومات شريکوم. د ګمرکاتو لوی رياست د دولت هغه مهمه اداره ده، چې د عوايدو جمع کېدل او د سوداګريزو توکو د اسانتياوو برابرول ورپورې اړه لري. د ګمرکاتو لوی رياست په داخل کې ٦ رياستونه، په ګمرکاتو کې ۱۲ عمومي رياستونه، يو آمريت او دوه عمومي مديريتونه لري، چې ۲۴۵۵ کارمندان او ۱۵۰۰ شاوخوا څخه زيات امنيتي قطعه لري. په تېر يوه کال کې د ګمرکاتو لوی رياست ډېرې لاسته راوړنې لري، چې ځينې مهمې يې په لاندې ډول درسره شريکوم:

۱ـ د اداري سهولت ترڅنګ له فساد سره جدي مبارزه، په اداره کې هغه اشخاص چې فساد ته يې لمن وهله ګوښه او پرځای يې وړ، امين، مسلکي، دين او وطن ته ژمن کسان مقرر سوي؛

۲ـ شفافيت، د قاچاق د مخنيوی لپاره جدي مبارزه او په عوايدو کې زياتوالی راغلی؛

۳ـ ۵۰۰ نوي رسمي کارمندانو مقرر سوي دي؛

۴ـ زياتو کوډونه مو له منځه وړي، د ترانزيټ موده مو له ۵ ورځو څخه ۸ ورځو ته غځولې؛

۵ـ د مشرتابه د هدايت پر اساس مو د سلګونو اجناسو په مصارفو کې تخفيف خاصتاً په اوليه موادو کې راوستلی دئ؛

٦ـ په هفته کې د ستونزو او مشکلاتو د حل لپاره اداري مجالس جوړوو؛

۷ـ ځينې ګمرکونه مو د لاښه سهولت لپاره سرحداتو ته انتقال کړي دي؛

۸ـ په طی مراحلو کې مو تازه ميوې او ترکاريو ته لومړيتوب ورکړی دئ؛




۹ـ پر صادراتو ۲٪ فيصده ماليه معاف سوې ده؛

۱۰ـ ټولو ګمرکاتو ته مو هيئتان لېږلي؛ ترڅو له ګمرکونو څخه جدي څېړنه او ارزونه وکړي او راپور يې وخت پر وخت له مرکز سره شريک کړي؛

۱۱ـ له ټولو ګمرکونو ورځنی، هفته وار، ماه وار او ربع وار راپور اخيستل کيږي، تر څو ستونزو او مشکلاتو ته ئې رسيدګي وسي او د پرمختګ لپاره يې لازمي اسانتياوې برابرسي؛

۱۲ـ عوايد مو مکمل کمپيوټري (ډيجيټلي) کړي؛

۱۳ـ په ګمرکونو کې د ګرځنده مراقبت يوه مهمه اداره ده د قاچاقو د مخنيوي لپاره جدي فعاليت کوي؛

۱٤_ په صادراتو کې مو ډېر سهولتونه ايجاد کړي، چې پر صادراتو يې ښه اغيزه کړې، د تېر جمهوريت په يوه کال کې ۱٥_ ميليارډه افغانۍ د صادراتو ارزښت وو؛ مګر د اسلامي امارت په ۵ مياشتو کې ۵۲ ميليارډه افغانۍ صادراتو ارزښت پيدا کړ، چې د تېر په پرتله زيات توپير سره لري؛

۱٦ـ د تېر نظام په يوه کال کې ۱۷۷ميلیارده افغانيو په ارزښت واردات وو؛ مګر اوسمهال دغه کچه ۲۲۲ميلیارده افغانۍ سوې؛

۱۷ـ د صادراتو محمولې د تېر نظام په يوه کال کې ٦۲۲۹۴ محمولې وې؛ مګر د امارت په يو کلن دور کې دغه کچه ۱۸۳۸۸۴ محمولې ته رسېږي؛

۱۸ـ د ترانزيټ په برخه کې د تېر نظام په يوه کال کې ۱۵۵۷۴ موټره ترانزيټ درلود، چې اوسمهال دغه کچه په تېر يوه کال کې ٥٦۹٦۴ ته رسېږي.؛

د تېر په پرتله تجارت مو ورځ تربلې زياتېږي، موږ به نور هم پوره هڅه او کوشش کوو، چې په عوايدو کې زياتوالی راوړو او سوداګرو ته لدې هم ښه سهولتونه ايجاد کړو.

ومن لله التوفق
په درنښت

**د امتياز خاوند:** د ماليې وزارت
**مسؤل مدير:** احمد ولي حقمل
**مرستيال:** محمد نبي سلطاني
**کتنپلاوي:**
ندا محمد صديقي
عبدالرحمن سجاد
ابراهيم ګران
اجمل زاهد
**د خبر مدير:** داود نظري
**خبريال:** سيد مصطفی سروش
**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**عکاس:** فضل احمد يوسفزی
**ډيزاينر:** محمد نسيم ظهوري

**د ماليې وزارت د لاسته راوړنو، خبرونو، کنفرانسونو، خبرتياوو، غونډو، داوطلبۍ اعلانونو، د املاکو د قراردادونو او نورو مالياتي مسايلو څخه د خبرېدا لپاره لاندې آدرسونه کتلای سئ:**

**ويبپاڼه: mof.gov.af**
**ټويټر: @afghanistanmof**
**يوټيوب: afghanistan mof**
**فيسبوک : د ماليې وزارت، وزارت ماليه**

**د شتمنۍ اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت سره سمې وي.**
**له ټولو درنو همکارانو او د هېواد له ليکوالو هيله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک magazine@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.**